## خارج

هغه شخص چې ذي الید نه وي او مدعي ګڼل کېږي.
دری:[خارج]

## خارج له ارادی څخه سبب

هغه سبب دی چې د شخص له ارادې څخه بهر وي.
دری: [سبب خارج از اراده]

## خارجي اعمال

هغو اعمالو ته ویل کیږي چې انسان یې د خپلو حرکاتو له لارې په بهر کې تر سره کوي او د هغو آثار پر نورو مرتب وي. دری:[اعمال خارجی]

## خارجي سبب

هغه سبب دی چې د یو امر د واقع کېدلو په اړه د هغې رامینځ ته کېدل د شخص د ارادې فعالیت او واک له دایرې څخه وتلی وي. دری: [سبب خارجی]

## خاص اذن

هغه اذن چې د اجازې ورکوونکي په اعتبار کې د یو یا څو ټاکلو تنو لپاره صورت مومي. دری:[اذن خاص]

## خاص اقرار

هغه دی چې اقرار کوونکی په یوه خاص او معین شي باندې اقرار وکړي. (اقرار ته دی مراجعه وشي).
دری: [اقرار خاص]

## خاص امانت

هغه امانت دی چې د مالك په قصد او رضا سره د بل په ګټه صورت مومي. (امانت ته دې مراجعه وشي).
دری: [امانت خاص]

## خاص ځایونه

هغه ځایونه دي چې د خاوند د اجازې پرته بل څوك هغه ته د ورتلو حق نلري. دری: [اماکن خاص]

## خاص څړځای

په هغه مرعی ساحاتو کښې چې د کلیو او ښارونو له حریم څخه وي اطلاق کیږي چې د اړونډو مراجعو له خوا د قانون له حکمونو سره سم تشخیص او تثبیتیږي.
دری: [علفچر خاص]

## خاص حکمي شخصیت

د خاصي ارادې څخه لکه جمعیت، موسسه، مدني او یا سوداګریز شرکتونه او د هغه په ډول منځ ته راځي.
دری: [شخصیت حکمی خاص]

## خاص سوء نیت

د پوهې اراده چې د جرم د موضوع د مال یا د جرم د متضرر په نسبت وي. دری:[ سوء نیت خاص]

## خاص ضمانت

هغه ضمانت دی چې یو شخص فقط پر مدیون باندې د دین د ورکړې د ضمانت لپاره داین ته کړی وي.
دری: [ضمانت خاص]

## خاص عادت

هغه دودونه او رواجونه دي چې د یوې معینې ډلې، قشر، او یا صنف تر مینځ وکارول شي. دری: [عادت خاص]

## خاص لفظ

هغه لفظ دی چې پر یوه واحد فرد د دلالت لپاره وضع شوی وي. دری: [لفظ خاص]

## خاص مرعی

د ښارونو او کلیو له حریم څخه عبارت دی چې د عامه اړتیاوو په مقصد او د قانون له حکمونو سره سم پکې د دولت او اشخاصو مالکانه تصرف جواز نلري او د عامه ملکیت له جملې څخه وي. دری:[مرعی خاص]

## خاص مشدده حالت

هغه حالت چې جرم د خاصو شرایطو او حالاتو لاندې اجرا شي، چې دغه حالت د قانون له خوا تصریح او د هغه رعایت د محکمو له خوا الزامي وي.

دری: [حالت مشددهٔ خاص]

## خاص وصي

هغه څوک دی چې د حالاتو او وړاندیز شویو خاصو شرایطو له تقاضا سره سم د محکمې له خوا د یو ځانګړي تصرف د سرته رسولو لپاره ټاکل کېږي.

دری: [وصی خاص]

## خاصه حقابه

له هغو روانو اوبو څخه عبارت دی چې په مشاع ملکیت، په خاصه لښتي پورې اړونده وي. دری:[حقابه خاص]

## خاصه شرعي دفاع

هغه دفاع چې د نفس، مال او ناموس په حمایت سره سرته رسېږي او د تیري په مقابل کې د زور په واسطه لازمه دفع صورت مومي. (مشروع دفاع ته دې مراجعه وشي) دری: [دفاع شرعی خاص]

## خاصه محاکم

هغه محاکم دي چې په دوامداره توګه د قانون له حکمونو سره سم، د ټاکلو جرمونو د څېړنې لپاره او یا د ځانګړو اشخاصو د محاکمې لپاره ځانګړې شوي وي.

دری: [محاکم خاص]

## خاصه وقایه

هغه وقایه چې په هغې کې د مجرم شخصیت په پام کې نیول کېږي او پر هغه جزاء تطبیقیږي.

دری:[ وقایهٔ خاص]

## خاطب

د ښځې غوښتونکی شخص. دری: [خاطب]

## خالص ارزښت

هغه نګه پیسې دي چې د پوروړو یا د یو مالي تړون د دواړو خواوو د مسوولیتونو له مقایسې څخه لاس ته راځي. دری: [ ارزش خالص]

## خپلواکي

د دولتونو د عمل آزادي ده چې په خپلو ټولو کورنیو او بهرنیو سیاسي او ټولنیزو چارو کې د خپلواک عمل واک ولري. دری: [آزادی]

## خدمتي دریځ

هغه حالت چې مامور د رسمي خدمت د ترسره کولو لپاره په مؤقت ډول د اداري د تجویز پر بنسټ د اصلي دندې پرته د یوې ټاکلې مودې په نظر نیولو کې ګمارل کېږي. دری: [موقف خدمتی]

## خرابکاري

هغه عمل دی چې د هغه په اثر ملي اقتصاد، مواصلاتي کرښو، ترانسپورتي وسایطو، مخابراتي او نورو دولتي او غیر دولتي مالونو ته صدمه رسېدلی وي.

دری:[خرابکاری]

## خرڅ

هغه مال چې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره مصرفیږي.

دری:[خرچ]

## خزانه

هغه ځای دی چې په هغه کې پیسې او نقود په سیفونو او مصوونو ځایونو کې د حقیقي اشخاصو په مسوولیت ساتل کېږي. دری: [خزانه]

## خصم

هغه کس چې ادعا لري او یا پر هغه ادعا شوی وي چې د خصومت له قانوني حالت څخه برخمن کېږي.

(خصومت ته دې مراجعه وشي). دری: [خصم]

## خصوصي دعوي (مدني)

د مجني عليه (دجرم څخه متضرر) يا د هغه د قانوني قايمقام ادعاء چې د مجرم يا هغو اشخاصو چې په قانوني توګه د هغو د خسارې د جبران څخه چې د هغه د عمل څخه رامينځ ته شوې وي مسئووليت لري د خساري د جبران او د وارده ضرر او زيان په موخه.

دری: [دعوی خصوصی (مدنی)]

## خصوصي ځمکې

د حقيقي او يا حکمي اشخاصو د ځمکې ټوټه يا ټوټې دي چې په يوه ځای او يا څو ځايونو کې واقع شوی وي.

دری:[زمين خصوصی]

## خصوصي شاکي

هغه شخص چې د جرم له ارتکاب څخه د زيان او ضرر متحمل شوی وي او د خپل زيان د جبيري غوښتونکی وي.

دری: [شاکی خصوصی]

## خصوصي فينانس

د پيسو هغه تدارک دی چې د خصوصي حقيقي او حکمي اشخاصو، شرکتونو د اړتيا وړ مخارجو د تأمينولو په منظور وي.

دری:[فينانس خصوصی]

## خصوصی عفو

له هغې عفوې څخه عبارت ده چې د جمهوري رياست د فرمان په واسطه صادريږي. دا ډول عفو جرم لـه منځـه نـه وړي بلکې د هغې په اثر ټوله يا يوه برخه له هغو جزاګانو څخه چې قطعي حکم ورباندې شوی وي ساقط کيږي.

(عفوې ته دې مراجعه وشي).

دری: [عفو خصوصی]

## خصومت

هغه قانوني حالت دی چې د دعوې داستعمال لـه حـق څخه سرچينه اخلي او د هغه پر اساس پر خصومو حقوق او وجيبې مرتبيږي.

دری: [خصومت]

## خصی کول

د جنسي مجرمينو د جنسي غړي قطع کول او له کاره ايستل چې په جنسي جرمونو محکوم شوي وي.

دری: [خصی کردن]

## خطا قتل

که د فاعل فعل تجاوز نه وي او د مجني عليه د قتل نيت يې هم نه وي کړی، قتل خطا ګڼل کيږي.

دری: [قتل خطا]

## خطاء

له هغه فعل څخه عبارت دی چې مجرم هغه فعل له قصد څخه پرته سرته ورسوي.

دری:[خطاء]

## خِطبه

د واده لپاره خواستګاری کولو ته وائي.

دری:[ خِطبه]

## خطر

هغه حالت ته ويل کيږي چې په هغه کې د معمول وضعيت خلاف داسې پيښې او حوادث رامنځته شي چې عادي بهير ګډوډ کړي.

دری:[خطر]

## خطرناك مجرم

هغـه شـخص چـې د هغـه جـرم د ارتکـاب سـوابق، ځانګړتياوې او کيفيت، هغه په راتلونکي کې د جرم د ارتکاب په خطر کې اچوي.

دری: [مجرم خطرناک]

## خطرناکه جرح
له هغې جرحې څخه عبارت ده چه له شلو ورځو څخه په زياته موده کې شفا مومي. دری: [جرح خطرناک]

## خلط
د دوو يا زياتو شتمنيو يوځای کېدل او يا د ارتفاق د ځينو حقوقو يوځای کېدلو ته ويل کيږي. دری: [خلط]

## خلع
خلع د هغه مال په بدل کې چې زوجه يې زوج ته ورکوي، د واده د عقد انحلال دی. دری:[خلع]

## خليط
هغه شخص دی چې په ملکيت او يا د هغه په اړونده حقوقو کې شريک وي. دری:[خليط]

## خمس
د يو شي پنځمې برخې ته د قانون له حکمو سره سم ويل کيږي. دری: [خمس]

## خنثی
هغه شخص دی چې د هغه جنسيت د تعيين وړ نه وي. دری:[خنثی]

## خيار
په حقوقي اصطلاح کې خيار هغه واک دی چې د قانون له مخې د عقد د فسخې په موخه د عقد له دواړو خواوو څخه يوي، يا دواړو او يا هم دريم شخص ته ورکول کيږي. دری:[خيار]

## خياري عقد
هغه لازم عقد دی چې پکښې دواړو خواوو او يا دريمګړو اشخاصو ته د فسخې حق په نظر کې نيول شوی وي. دری:[عقد خياری]

## خيانت
عبارت دی د نورو د حقوقو له نقض څخه چې له مخې ئې اشخاصو او يا ټولنې ته زيان ورسيږي. دری: [خيانت]

## خيريه ټولنه
هغه ټولنه ده چې د خيريه او يا ټولنيزې هوساينې د موخو د تأمين په مقصد د جمعيت د غړيو او يا هم د نورو اشخاصو د کار اخيستنې لپاره جوړه شوې وي. دری:[جمعيت خيريه]

## خيريه لارې
هغه چارې او امور چې د افرادو او ټولنې د ښيګڼې او فلاح لپاره په نښه شوي وي. دری :[ طُرُق خيريه]

## خيمه ئي قوسي خطونه
له هغو خطونو څخه عبارت دی چې د ګوتې د يوې څنډې څخه پيل کيږي او د لارې په اوږدو کې پاس خوا ته صعود کوي او بيا وروسته د خط لانديني برخې خوا ته خپل تګ لارې ته تغيير ورکوي او د يوې خيمې شکل غوره کوي. دری: [خطوط قوسی خيمه يی]